# د امنیت شورا

خپریدل: عمومی
د جون ۱۶، ۲۰۱۰
اصل: انګلیسي

## د ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) شمیره پریکړه لیک د ۴۰ پراګراف سره سم د عمومي منشي راپور

### I. پیژندنه

۱. ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) شمیره پریکړه لیک د یوناما ماموریت د ۲۰۱۱ د مارچ تر ۲۳ پورې تمدید کړ او له عمومي منشي څخه یې وغوښتل چې په افغانستان کې د پرمختګونو په باب په هرو دریو میاشتو کې راپور ورکړي.

۲. دغه راپورپه افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په باب، چې د پخواني راپور-A/64/705) (S/2010/127 یاني د ۲۰۱۰ کال د مارچ له لسمی نیټی راهیسي کړي دی، نوی معلومات ورکوي. راپور په دې موده کې د سیاسی او امنیتی مهمو پرمختګونو یو لنډیز وراندې کوی لکه د سولې مشورتي جرګه، د ملي شورا لپاره ټاکنې، د پولیس ملی ستراتیژي، او د افغانستان په اړه سیمه ییزې او نړیوالي پیښې.

### II. په افغانستان کې د مهمو سیاسي او امنیتی پرمختګونو لنډیز

۳. د افغان حکومت د امنیت په ښه کولو، بیا راګډولو او د پارلماني ټاکنو لپاره په تیاري نیولو کې خپلو هڅو ته ادامه ورکړې ده او د افغانستان په باب د لندن د کنفرانس د ژمنو سره سم، چې د دې کال د جنورۍ په ۲۸ په لندن کې تشکیل شو د سیمه ییزې همکارې په موخه خپلې هڅې ګړندۍ کړې دي. د کابل د کنفرانس لپاره چې د دې کال د جولای په ۲۰ به جوړ شي، تیاری رواني دي او د اپریل په پای کې د سولې او بیا ګډوني د پروګرام په اړه یوه مسوده جارې شوه؛ نورې ساحي هم زیاته پاملرنه غواړي څو مهم پرمختګونه وشي او د افغان حکومت ته د دې فرصت پیدا شي چې خپلې ژمنې ترسره کړي او د ریفورمونو ډیره سخته اجنډا پلې کړای شي.

۴. د دې لپاره چې د سولې یو پراخ بنسټه پروګرام تصدیق کړي، د افغان حکومت د جون له دویمی څخه تر څلورمی پورې د سولې یوه مشورتي جرګه جوړه کړه. په دې جرګه کې د افغانستان د ټولنې او افغاني موسسو ۱۶۰۰ استازو ګډون درلود. نړیوال سازمانونه او بهرني سفارتونه بلل شوي وو چې د جرګې پرانستونکی او وروستنۍ غونډې وګوري، د افغانانو له خوا رهبري شوې د دې جرګې موخه دا و چې د افغانانو ترمنځ د ډیالوګ لپاره یوه چوکاټ وټاکي او د سولې د پروسې لپاره، د سولې او بیا ګډوني د پروګرام په ګډون،د میکانیزمونو په باب د مذاکرو زمینه برابره شي.

۵. د پوهنی وزیر، فاروق وردګ په دې باب ډیرې مشورې وکړې چې د جرګې د استازیتوب ماهیت څرګند شي. د پارلمان غړو، والیانو، د ولایتی شوراګانو غړو او د ولسوالیو استازو، دغه راز د ښځو د ګروپونو، مدني ټولنې، کلتوري او علمی موسسو، روحانیونو، قومي ټولنو، د کوچیانو او هزاره ګانو په ګډون او د پاکستان او ایران د اسلامي جمهوریت څخه استازو په کې ګډون درلود. ولسمشر کرزی د ښځو ګډون کوونکوونډه له ۱۳ څخه ۲۰ په سلو کې زیاته کړه. (۳۴۷ تنو ښځو په کې ګډون درلود).

۶. سره له دې چې په پرانیستونکې غونډه کې راکیټ وغورځول شو او ځانمرګی برید وشو، خو جرګې خپل کار ته بې له ځنډه ادامه ورکړه. ګډون کوونکو په وروستی ۱۶ فقره ییزه اعلامیه کې د ولسمشر ابتکار تصدیق کړ، چې د سولې د بیا په حال کولو لپاره یو ملي ډیالوګ په لار واچوي او د دې سپارښتنه یې وکړه

چې د افغانستان حکومت دي د تل پاتې سولې لپاره يو سوله ييزه څو اړخيز پروګرام د ملي ستراتيژۍ په څير معرفي کړي. اعلاميې وړاندې له افغان حکومت او نړيوالو ځواکونو څخه غوښتي دي، چې هغه افغانان پريږدي څوک چې په "نا باوره راپورونو او بې بنياده تورونو" توقيف شوي دي؛ د هغو مخاليفو افغانانو نومونه له تور لست څخه وباسي، چې د امنيت د شورا د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) شميره پريکړه ليک په نتيجه کې جوړ شوي؛ اود هغو کسانو مصونيت تضمين کړي چې د سولې له بهير سره يو ځای کيږي. جرګې له نړيوالې ټولنې څخه مننه وکړه، چې د افغانستان په بيا ودانولو کې يې مرسته کړې ده او د افغانانو له خوا رهبري شوې د سولې او پخلاينې له جرګې سره يې خپلو مرستو ته ادامه ورکړې ده.

۷. د سولې او بيا ګډونې د پروګرام مسوده ډيرې تګلارې احتواء کوي، لکه د هغو نومونو په لست باندې بيا غور کول چې د امنيت د شورا ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) شميره پريکړې سره سم جوړ شوي، د سياسي تدارک لپاره تياری، دريم هيواد ته تبعيد، په انفرادي توګه له شورشيانو سره مرسته کول چې د انتقال له دورې څخه ووځي، د ټولنې د پرمختګ پروژې، د کرنې او ساتنې لپاره سنبال شوي کسان، د کارونو لپاره روزنه او داسې پروګرامونه چې د افراط مخه ونيسي.

۸. په عمومي ډول، د طالبانو غبرګون د سولې او پخلاينې د وړانديزونو په وړاندې منفي و، د مارچ په ۱۸ د ګلبدين حکمتيار د حزب اسلامی يوه پلاوې چې مشري يې قطب الدين هلال کوله، له ولسمشر کرزی، د پارلمان له غړو، د پخوانيو طالبانو او د نړيوالې ټولنې له ځينو استازو سره وکتل.

۹. د کابل کنفرانس په ذريعه، چې د افغانستان د خلکو سره د يوه تړون حيثيت لري، افغان حکومت اراده لري چې د پرمختګ، حکومتدارۍ او امنيت د ښه کولو لپاره، د هغو لومړيو پروګرامونو په ګډون چې د خدمتونو رسول ګړندي کوي، داسې يو پلان وړاندې کړي چې مشرتوب يې په خپله د افغانانو په لاس کې وي. که څه هم د کابل په کنفرانس کې ژمنې نه کيږي، خو د دې تمه کيږی چې مرستندويان به خپل پروګرامونه د دې پلان شاته ودروي او د مرستو د اغيزمنتوب اصل به تقويه کړي. د کنفرانس پلانونه او مشخصې پايلې به د څارنې او همغږۍ د ګډ بورډ او د هغې د دايمي کميټې له خوا چمتو شي.

۱۰. په سپتمبر کې د پارلماني ټاکنو لپاره تياري د يوناما له خوا د اپريل په ۱۷نيټه د تطبيقي لارښودنو د صادرولو په ذريعه چې د ټاکنو د قانون په باب د ولسمشر د ۱۷ فبرورۍ له فرمان سره يو ځای شوی، نيول شوی (د III لاندې برخه وګورئ). دغو اقداماتو د ملي شورا د ولسي جرګې او د ولسمشر تر منځ هغه مباحثه يو څه نرمه کړه چې ولسي جرګې د مارچ په ۳۱ نيټه د ولسمشر فرمان مسترد کړ او ولسمشر بيا د مستردولو په ضد قانوني دلايل وړاندې کړی دی.

۱۱. د دې راپور په دوران کې د ټاکنو خپلواک کميسيون د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره د کانديدانو ثبتولو پروسه (۲۰ اپريل- ۶ مې) سرته ورسوله چې بې له کومې پيښې پای ته ورسيده او ۲۶۳۵ تنه نوماندان چې ۴۰۰ تنه يې ښځې دي ثبت شول. دغه شمير د دې تضمين کوي چې ښځې به حد اقل دوی ته منسوب شوی ټولې ۶۸ څوکې ونيسي او کيدای شي چې نورې هم تر لاسه کړي. د ښځو نوماندو شمير په وروستی اونی کې ډير زيات شو او لامل يې دا و چې د ټاکنو خپلواک کميسيون د عامه پوهاوی لپاره يو اغيزناک کمپاين پيل کړ. د ښځو نوماندو فيصدي د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو په پرتله زياته شوې ده. په تيرو ټاکنو کې د ۲۷۰۷ نوماندانو له ډلې څخه ۳۲۸ تنه يې ښځې وي.

۱۲. د ټاکنو د شکايتونو کميسيون په خپله لومړۍ پريکړه کې چې د مې په ۲۴ يې وکړه، د ټاکنو په خپلواک کميسيون غږ وکړ چې ۲۲۶ مسترد شويو نوماندانو ته د دوی په غوښتنليکونو کې د نيمګړتياوو په باب وواېي او هغوي ته د دې فرصت ورکړي چې سموني په کې راولي. ۸۸ نوماندانو وکولای شو چې غوښتنليکونه بشپړه کړي او په دويم لست کې ونيول شول.

۱۳. د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د راتلونکی لپاره کميشنران او مرستندويه پرسونل په ګوته کړي چې په ټولو ۳۴ ولايتونو کې د ټاکنو د شکايتونو کميسيون وټاکي. د مې په ۲۹ ولسمشر د ولايتونو په کچه د ټاکنود شکايتونو د کميسيون ۱۱۳ کميشنران منظور کړل، چې شپږ تنه يې ښځې دي. په عين وخت کې د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون لپاره هغه موده، چې په ترڅ کې دوی د نوماندانو په اړه شکايتونو تر غور لاندې نيسي د مې په ۱۲ پيل شوی او تمه کيږي چې د جون په ۱۰ به پای ته ورسيږي. د تصفيې کميټې (د دفاع، داخله او دولتي امنيت د لوی رياست استازی په کې ګډون لري) چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون تر مشرتابه لاندې کا

رکوي، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته ۸۵ تنه معرفي کړی دی او د دې سپارښتنه یې کړې ده چې د دوي نومونه له لومړنی لست څخه وایستل شي، ځکه چې دوی له ناقانونه وسله واله ډلو سره تړاو لري. دغو نوماندانو ته د دې فرصت ورکړای شو چې د جون له ۴ څخه مخکې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته شکایت وکړي. له دې نه علاوه، ۱۲۶ نور شکایتونه هم د شکایتونو کمیسیون ته سپارل شوي، چې په دې کې ۲۴ داسې نوماندان شته چې له ناقانونه وسله والو ډلو سره د تړاو په تور تورن دي.

۱۴. د ملي شورا د نورو قانوني اجندا وو تر څنګه او له اوږدو مباحثو وروسته، ولسي جرګې د اپریل په ۲۴ د ۱۳۸۹ (د ۲۰۱۰ مارچ- ۲۰۱۱ مارچ) مالي کال لپاره بودجه تصویب کړه. د جون په نهمه نیټه ولسي جرګې پنځه تنه نوماندان چې د ولسمشر له خوا د اساسي قانون د تطبیق لپاره د څارنې د کمیسیون لپاره نومول شوي وو، تصویب کړل دغه کمیسیون د اساسي قانون په ۱۵۹ ماده کې ذکر شوی او له اوو تنو څخه جوړ شوې او پنځه تنه یې نصاب جوړوي چې پنځه تنه تصویب شول او وکولای شي کار پیل کړي. ولسمشر د هغو وزیرانو نومونه باید معرفي کړي چې پوستونه یې خالي دي، چې د کورنیو چارو وزیر له استعفا څخه وروسته ۱۲ تنه وو. په عین وخت کې د مشرانو جرګې هغه امنیتي حادثې وغندلې چې په ترڅ کې یې په هیواد کې ملکي کسان وژل شوی دی او دغو پیښو دا مباحثې راپورته کړې چې په هیواد کې د بهرنیو ځواکونو د قانونیت مساله رامنځ ته شي.

۱۵. په افغانستان کې د امنیتي وضعې د ښه کولو لپاره یوې داسې پالیسي او چوکاټ ته اړتیا شته چې په ملي کچه د تهدید د ارزونې کچه څرګنده کړي. دغه ارزونه د افغانستان د ملي امنیت د پالیسي او له هغې سره د ستراتیژي لپاره یو بنیاد جوړوي. د افغانستان د امنیت د ملي کمیسیون سره یو ځای، چې د حکومت د ملي امنیت د سکټور لپاره د پالیسي د جوړولو مسوولیت لري، یوناما په ملي کچه د ګواښونو د ارزونې د مسودې په باب مشورې ورکړې دي.

۱۶. دغه راز یوناما د کورنیو چارو د وزارت سره د ملي پولیس ستراتیژۍ او ملي پولیس پلان په جوړولو کې مرسته کړې ده. دغه راز د کورنیو چارو وزارت د دې وزارت او افغان ملي پولیس لپاره یو تشکیل تصدیق کړی دی. د پولیس ملي ستراتیژي تصدیق، چې د لندن په کنفرانس کې یې ژمنه شوې وه د ملي پولیس د قوې د جوړیدلو لپاره یو لومړنی مهم ګام دی، چې هم د ملکی وګړو لپاره د خدمتونو کولو جوګه وي او هم وکولای شي چې د شورشیانو په ضد په فعالیتونو کې برخه واخلي. د پولیس ملي پلان او تشکیل هغه ضرورت ته یو غبرګون دی، چې د پولیس لپاره د نویو کسانو استخداموال د کورنیو چارو د وزارت او د افغان ملي پولیس له اداري ریفورم سره همغږي او برابر کړي. تمه کیږي، چې د ناټو، د افغانستان لپاره د امنیتي عبوري قوماندو او د اروپایي اتحادیې د پولیس د ماموریت له خوا به د کورنیو چارو د وزارت لپاره کافي زیرمې برابرې شي چې دغو دوو ګونو ګواښونو ته ځواب ووایي.

۱۷. د افغان ملي امنیتي قواوو د پرمختګ لپاره د ریفورم پلانونه هغه ستراتیژیک هدفونه دي، چې د نړیوال پوځی ځواکونو او مرستندویانو له خوا تقویه کیږي. د افغان ملي پولیس او ملي اردو یوه اندازه له هغو موخو څخه وړاندې تګ کړی دی چې په منځنی دوره کې ورته ټاکل شوي وو، یانې د دې کال تر اکتوبر څخه وړاندې افغان ملي پولیس شمیر (۱۰۹۰۰۰) تنه او د افغان ملي اردو شمیر (۱۳۴۰۰۰) تنه وي او په ترتیب سره د دغو قوتونو شمیر د ۲۰۱۱ په اکتوبر کې باید (۱۳۴۰۰۰) او (۱۷۱۶۰۰) تنو ته ورسیږي.

۱۸. په عمومي ډول، د امنیتي پیښو شمیر له تیر کال سره په پرتله او د موسمي حالاتو په خلاف ډیر زیات شوی دی. د دې زیاتوالی نسبت هغو نظامي عملیاتو ته کیږي، چې د روان کال په لومړنیو دریو میاشتو کې یې په جنوبي برخو کې زور واخیست. دغه راز بل لامل یې دا دی چې په جنوبي او جنوب ختیځو برخو کې د شورشیانو فعالیتونه هم زیات شوی دي. د نظامي فعالیتونو زور په جنوبی برخو کې زیات و، چې په مرکزي هلمند او کندهار کې عملیات وشول. اصلي موخه دا وه، چې د حکومت لاس هلته ورسیږي. د دې تګلارې بریالیتوب په دې پورې تړلی دی، چې د اوږد مهاله پرمختګ سره تړلې ده دغه هڅې په خپل وخت سرته ورسیږي چې د ښې حکومتداری او د خدمتونو دوړاندې کولو په هدف کیږي. د دې کار لپاره د افغان امنیتي ځواکونو او غیر امنیتي وزارتخانو ترمنځ په همکارۍ او دغه راز د نړیوالو امنیتي ځواکونو او نړیوالې ټولنې له خوا په همغږۍ، اړوندو او هر اړخیزو مرستو پورې ډیرې اړینې بریښي.

۱۹. په زیاترو پیښو کې وسله واله جګړه او د چاودیدونکو توکو کارول شامل وو، چې هر یو یې د ټولو حادثو په یوه پر دریمه برخه کې په کارول شوي دي. د چاودیدونکو توکو په کارولو کې زیاتوالی یو اندیښمن

تمایل څرګندوي چې د روان کال په لومړنیو څلورو میاشتو کې د تیر کال له همدې مودې سره په پرتله په سلو کې ۹۴ زیاتوالی ښیي. د ځانمرګو پیښو اندازه په هره اونۍ کې درې ځله ښودل شوی، چې نیمایي دغه ډول پیښې په جنوب کې واقع شوي. پیچلې ځانمرګي بریدونه په عموم ډول په میاشت کې دوه ځلې شوي، چې دغه اندازه کې د تیر کال په پرتله په منځني ډول په میاشت کې یوه پیښه زیاته شوې ده. دوه دغه ډول بریدونه په کابل او هلمند کې په هغو میلمستونو وشوې چې نړیوال ملکی کسان په کې اوسیدل. پیچلو ځانمرګو بریدونو ته عبور کول د محلي تروریستي شبکو هغه توانایي ښيي چې له القاعده سره تړاو لري. شورشیانو د ملکی کسانو په ضد خپلو ګواښونو ته دوام ورکړی، چې په منځنی حد په اونی کې اووه پیښي رامنځ ته شوی او زیاتره دغه ډول پیښي په جنوب او جنوب ختیځ کې واقع شوي. په دې پیښو کې د تیر کال همدې مودې سره پرتله ۴۵ ٪ زیاتوالی څرګندیږي. په جنوب کې، د لوړ رتبه ملکي کارمندانو، دیني عالمانو او په کندهار ښار کې د مشرانو وژنه (د ښاروال د مرستیال او د کرنیز کوپراتیفونو د مشر په ګډون) په دې مقصد شوی دي چې د ښاري خلکو ترمنځ خپله ولکه ټینګه کړي.

۲۰. د اپریل په ۲۲ او ۲۳ د تالینډ په کنفرانس کې د ناټو سازمان د غړو هیوادونو د باندنیو چاروو وزیرانو موافقه وکړه، چې له نړیوالو نظامي ځواکونو څخه افغان ملي امنیتی ځواکونو ته د امنیتی مسوولیتونو د تدریجي سپارلو په مقصد یو چوکاټ تیار کړي او داسي لاملونه هم په نظر کې وساتي لکه د پرمختګ حالت، حکومتداري، د قانون حاکمیت او د قبیلو او قومونو ترمنځ د استازیتوب د موازني ساتل دي. د نړیوالو امنیتي ځواکونو قوماندان او په ملکي چارو کې د ناټو لوړ پوړی استازی په دې وګمارل شول چې یو پلان طرح کړي او د کابل په کنفرانس کې به د نړیوالو او افغان امنیتی ځواکونو یوه ګډه عبوري تګلاره د پرمختګ لپاره څرګنده شي. د عبوري تګلارې لپاره به د ناټو په سرمشریزه غونده کې، چې د روان کال د نومبر په پای کې په لزبن کې جوړیږي ښکاره شرایط تعریف شي. په داسي حال کې چې نړیوال همکاران له افغان حکومت سره د لندن د کنفرانس له ژمنو سره سم خپلو مرستو او ملاتړ ته ادامه ورکوي، دا خبره څرګنده ده چې عبوري پروګرام باید محلي اړتیاوې او شرایط په پام کې وساتي او له هغو سره سم عیار شي. همدارنګه دا خبره هم دومره اهمیت لري څو یقیني شي، چې د عبوري پلان غیر امنیتي خواوې باید د افغانستان د حکومتدارۍ او د پرمختګ له لومړیتوبونو سره سم عیارې شي. یوناما به د افغان او نړیوالو امنیتي ځواکونو سره له نږدې همکاري وکړي چې دغه هڅې ګړندۍ شي.

۲۱. افغان حکومت او کلیدي برخه وال خپلو هڅو ته ادامه ورکوي، چې سیمه ییزې همکاري او په افغانستان کې په امنیتي پرمختګ باندې د هغو مثبتو اغیزو ته پراختیا ورکړي. د افغانستان او په سیمه کې د هیوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې هڅې زیاتې شوې؛ له هند او چین سره په لوړه کچه سیاسي ډیالوګ د دوو اړخیزو او سیمه ییزې همکارۍ په باب او له پاکستان او د ایران له اسلامي جمهوریت سره لیدنې کتنې شوې دي. ولسمشر کرزی له چین څخه د خپلې کتنې په ترڅ کې د مارچ له ۲۳ څخه تر ۲۵ پورې، له چینایي مشرانو سره د تروریزم په مقابل کې د جګړې په باب مذاکرې وکړي او د اقتصادي همکارۍ په باب، لکه تخنیکي روزنه او چین ته د افغاني صادراتو په باب ځیني امتیازي نرخونو په باب موافقې وشي. هند ته د ولسمشر کرزی سفر د اپریل په ۲۶ او ۲۷ له صدر اعظم منموهن سنګ سره خبرې د افغانستان د حکومت د سولې په ستراتیژي باندې راټولې وې.

۲۲. د اپریل په ۲۱ او ۲۲ په دوبی کې د کاناډا له خوا د تمویل شوې پروسې په تعقیب بیا په دوبی کې غونډه وشوه. د افغانستان او پاکستان چارواکو د مهمو بندورنود عصري کولو د حالت په باب بیا کتنه وکړه او د نویو ګمرکي ځایونو د ودانولو او دواړو خواوو ته د لارو د جوړولو په باب او د بندرونو د تنظیم د هر اړخیزې ادارې ستراتیژي د طرحې په باب مذاکرې چې هدف یې د نړیوالې پانګې د غوښتونو پوره کول و، څو په بندري چارو کې د حکومت نقش او مسوولیتونه څرګند شي.

**III. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستي د پلاوی او د ملګرو ملتونو د هیوادني ټیم فعالیتونه**

**الف: سیاسي فعالیتونه**

۲۳. زما نوی استازی، ښاغلی ستفان دی میستورا کابل ته د مارچ په ۱۳ ورسید او سملاسي یې له افغان حکومت سره د یوناما د فعالیتونو په اړه مذاکرې وکړي چې موخه یې د افغانستان د مشرتابه او خپلواکي د نقش تقویه کول وو. په ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) شمیره پریکړه لیک کې د لومړیتوبونو او د راتلونکو افغاني مهمو پیښو (یاني د سولې مشورتي جرګه، د کابل کنفرانس او پارلماني ټاکني) په رڼا کې یوناما څلور لومړیتوبونه

په ګوته کړي دي (درې جمع یو) څو د افغانستان له حکومت او خلکو سره د ملګرو ملتونو نقش د تل پاتې سولې او پرمختګ لپاره د بنیادونو په جوړولو کې تقویه شي، په داسې حال کې چې د بشري حقونو او د بشرپالنې مرستې په همدې ډول دوام لري. په دریو سیاسي لومړیتوبونو کې د ټاکنو، پخلاینې او بیا ګډونې او سیمه ییزې همکارۍ لپاره مرستې شاملیږي او څلورم لومړیتوب د مرستو اغیزمنتوب ټاکل شوي.

۲۴. د دې لپاره چې یقیني شي چې د یوناما موجودیت په سیمه کې پوره زیرمې ولري، منظم او تقویه شي څو د خپل ماموریت لومړیتوبونه پرمخ بوځي، زما ځانګړی استازی ډیرو سیمو ته د رسیدو لپاره خپلې هڅې پیل کړی دي. ده په خپل سفر کې ګردیز، خوست، مزار شریف، کندهار او هرات ته د ملګرو ملتونو له کارمندانو، محلي ټولنو، او چارواکو سره ولیدل او د ملګرو ملتونو ژمنې یې بیا تکرار کړي او د افغانستان له خلکو سره یې د اوږدې مودې د اړیکو او پراخ سیمه ایز حضور له لارې په دې سیمو کې خپلو هڅو ته ادامه ورکړه چې هغوي ته اسانتیاوې برابرې شي او لاس رسي ورته ممکن شي.

**ټاکنیزې مرستې**

۲۵. د مارچ په ۶ ولسمشر کرزی د امنیت د شورا د ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) شمیره پریکړه لیک سره سم له یوناما څخه دولسي جرګې د ټاکنو په اړه تخنیکي او لوژیستکي مرستې وغوښتې. د امنیت شورا په نوموړې پریکړه لیک کې د یوناما رهبر یکوونکی نقش د ټاکنو په پروسه کې د نړیوالو مرستو د همغږۍ کولو په اړه بیا تایید کړی دی. خو د ولسي جرګې له خوا د مارچ په ۳۱ د ولسمشر د ۱۷ فبروري فرمان مسترد کړ او په دې ډول د ټاکنو قانون په یوه نا څرګند موقف کې و، نو ځکه د ټاکنو لپاره بین المللي مرستې ټکنی شوې.

۲۶. زما د ځانګړی استازی د دفتر له خوا په ښه نیت سره د مقننه او اجراییه ارګانونو ترمنځ دغه مساله حل شوه. یوناما د فبروري په ۱۷ (۲۰۱۰) د ولسمشر کرزی له دفتر، د پارلمان له غړو او له مدني ټولنې سره له سلا مشورو وروسته ، د اپریل په ۱۷ نیټه د تطبیقی لارښوونو یوه موافقه اعلام کړه چې له مخې یې د ۲۰۱۰ د فبروري د ۱۷ نیټې فرمان په نظر کې نیول شوی او د دې فرمان او د ۲۰۰۵ هغه په منځ کې توپیرونه ډیر کم شوی دي. دغه لارښوونې لاندنې ټکې لري، (الف) د ټاکنو د خپلواک کمیسیون تقویه کول، (ب) د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون تشکیل او د هغو د رایې ورکونې کړندود، (ج) هغه مادې او شرطونه چې په ولسي جرګه کې د ښځو د استازیتوب مساله تنظیموي.

۲۷. ولسمشر کرزی د اپریل په ۵ نیټه فضل احمد معنوی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د مشر په حیث او له هغه وروسته یې عبد الله احمدزی د می په ۴ نېټه د ټاکنو د مشر افسر په حیث وټاکه. دغه ټاکنې په افغان ټاکنو کې د برخه والو له خوا تایید شوې. په دې سربیره ولسمشر د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون د پنځه کسیز کمیسیون لپاره زما د خاص استازی له خوا دوه تنه بهرني معرفی شوی کمیشنران منظور کړل: قاضي بوهان کریګلر، د جنوب افریقا د اساسي قانون د محکمې پخواني غړی او سفوت صدیقي، د عراق د ټاکنو لپاره د خپلواک کمیسیون غړی. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د ولسمشر د فرمان په ذریعه د اپریل په ۱۸ تشکیل شو او د دوو تنو بهرنیو کمیشنرانو په را رسیدو سره د می په ۲۰ په بشپړ ډول فعال شو.

۲۸. یوه ماده چې په پارلمان کې د ښځو د څوکیو په اړه وه څرګنده شوې ده، څو د دې یقین پیدا شي چې په اساسي قانون کې د ښځو لپاره ۶۸ څوکی حد اقل شمیر دی، نه دا چې د دوی لپاره تر ټولو لوړ شمیر وي. د دې تضمین هم تر لاسه شوی چې کو چیری یوه ښځه کاندیده د ځانګړې شوې څوکی ګټه واخلي او یا هغه اشغال کړي، نوموړې څوکی به بلې ښځې کاندیدې ته چې زیاتې رایې یې وړې وي، ورکول کیږي.

۲۹. د دې تفاهم پر بنسټ، زما ځانګړی استازی د دې سپارښتنه کوي، چې نړیواله ټولنه کولای شي مالي مرستې جاري کړي څو لازمي تخنیکي او لوژیستکي مرستې پیل شي. د پروژې وروستی سند چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د اداري له خوا چمتو شوی دی، د دونرانو د ټولنې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د مشرتابه په حضور کې د می په ۱۱ تصدیق شو. که څه هم په اوس مهال کې د ۵۰ میلیونه ډالرو بودجې کسر شته (د ټولې بودجې له جملې څخه چې ۱۵۰ میلیونه ټاکل شوی)، تمه کیږي چې دغه کسر به د دونرانو له خوا بشپړ شي.

۳۰. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو پروسه مشری کوي،د ملګرو ملتونو نقش دا دی چې موجوده افغاني ظرفیت ته وده او مرسته ورکړي. دغه سازمان به د ټاکنو لپاره بین المللي مرستې همغږې کړي چې کمیسیون

ته وده ورکړي او د ټاکنو لپاره په مرستو کې په عملياتي لحاظ يو والی او اغېزمنتوب تضمين کړي. د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام به د فعاليتونو په همغږي کولو کې رهبري کوونکی نقش ولري، چې د ټاکنيزو فعاليتونو او د ټاکنو لپاره د چمتوالی په اړه ډېر اړين بريښي، لکه عملياتي پلان جوړول، تهيه او تدارکات، د طرز العملونو او روزنې طرح او لوژيستکي مسالې، خو دغه فعاليتونه يوازې په دغو پورې محدود نه دي. د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام به دغه راز هغه کومکي او اضافي فعاليتونه همغږي کړي، چې د ټاکنو نورو برخه والو ته راجع کيږي، لکه مشاهده کوونکی، سياسي ګوندونه او خبري رسنۍ. که امنيتي شرايط اجازه ورکړي په اتو سيمه ييزو حوزو کې به د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام نړيوال کارمندان حاضروي.

۳۱. د امنيت د شورا د ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) پريکړې سره سم، ملګري ملتونه به له افغان موسساتو سره همکاری ته ادامه ورکړي چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو له ټاکنو څخه زده کړه وکړي او د اوږدمهال ټاکنيز ريفورم طرح کړي، چې د راتلونکو ټاکنو د بنسټ د تقويې او د دولت جوړونې په عمومي اجنډا کې د دموکراتيکو پرسو د موسساتي کولو لپاره ډېر مهم وي.

۳۲. د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام په ټولو ۳۴ ولايتونو کې د ولايتی شکايتونو د کميسيونونو په تشکيل او ايجاد کې مرسته کوي. که څه هم امنيتي ګواښونه شته، په څلورو جنوبی ولايتونو کې د کارمندانو د نيولو پروسه جاري ده. په ۱۲ ولايتونو کې تر اوسه د کميسيونونو لپاره دفترونه نه دي موجود.

### بيا ميشته کيدل او پخلاينه

۳۳. يوناما د بيا ګډونې او پخلاينې پروسې چې د افغانانو له خوا پيل کيږی تقويه کوي. زما ځانګړی استازی د ولسمشر له خاص سلاکار او د سولې او بيا ګډونې د پروګرام له مشر وزير ښاغلی ستانکزی سره په لومړنيو خبرو کې دې موافقې ته ورسيد چې د بيا ګډون او سولې پروګرام پيل شي. د افغان چارواکو او د سولې د مشورتي جرګې لپاره د تيارۍ د مشر او د معارف د وزير فاروق وردګ په غوښتنه يوناما د جرګې د جريان لپاره تخنيکي مرستې کړې دي.

۳۴. افغان حکومت د اپريل په ۲۲ له اړونده برخه والو سره د سولې او بيا ګډونې د پروګرام د سند لنډيز شريک کړ. په لنډيز کې ويل شوي، چې يوناما ګډ سکرتريت تقويه کوي، چې پروګرام ورځنی کارونه به طرح کوي او په ولايتي کچه به د پخلاينې او بيا ګډونې او سولې په کميټو کې ګډون کوي. لنډيز دغه راز وړاندې کړی دی، چې د امنيت دايمي کميټه، چې اوسم مهال د يوناما او د حکومت له خوا په ګډه سره رهبري کيږي دې پروګرام د طرح لپاره د پاليسي په برخه کې مشوري ورکړې دي، دغه راز يوناما په غير رسمي ډلو د دونرانو ترمنځ د غونډو همغږي کړې ده چې د حکومت او د هغه د دونرانو په منځ کې مشترکه ژبه پيدا کړي.

۳۵. د يوناما د صلاحيت سره سم چې له افغانانو سره د رغوونکې او هر اړخيز ډيالوګ د تعقيب لپاره د مناسبې لارې په موندلو او د يوه مناسب سياسي چاپيريال په رامنځ ته کولو کې مرسته کوي، زما خاص استازی، د افغان حکومت سره يو ځای د مارچ په لومړيو وختونو کې د حزب اسلامي له پلاوی سره وکتل. يوناما دې ته تياره ده، چې د غوښتنې په صورت کې د بيلابيلو قومونو د استازو ترمنځ ډيالوګ ته وده ورکړي او له هغو سره مرسته وکړي چې پخوانی ناخوالې هوارې کړي او د تاوتريخوالی او شخړو اوسنی سرچينې ورکې کړي.

### سيمه ييزه همکاري

۳۶. د يوناما له دندو سره سم چې سيمه ييزې همکاري ته د لومړيتوب حق ورکوي او هغه تقويه کوي او د لندن د اعلاميې سره سم زما ځانګړی استازی د مارچ په ۸ نيټه د کابل د وريښمو د لارې نوښت اعلان کړ. د افغانستان د باندنيو چارو له وزارت سره په ګډه رهبري کې، په دې ذريعه د افغانستان د نږدې او لرې ګاونډيو هيوادونو سفيرانو ته غير رسمي بلنه ورکړل شوه چې په افغانستان کې په اوږد مهال ثبات کې دوی خپلې ستراتيژيکي مشترکې ګټې تر بحث لاندې ونيسي. د اوسنيو مکانيزمونو په تقويې سره لکه د سيمه ييزې

اقتصادي همکارۍ کنفرانس او د سیمه ییزه هکارۍ له مرکز سره کار کول، چې د مۍ په ۲۷ جوړ شوی (د مختلفو سیمه ییزو نوښتونو لپاره د سکرتریت دنده لري، لکه د دوبۍ پروسه، د منځنۍ اسیا د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ پروګرام او د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ کنفرانس)، دغه غونډه به له کابل څخه یو نوی افق پرانیزي چې بیلا بیل نوښتونه پرمخ بوځي او سیمه ییزې سیاسي، امنیتي او اقتصادي همکارۍ ته پراختیا ورکړي چې په کې د اعتماد جوړونې ځینې اقدامات هم شامل دي.

۳۷. زما ځانګړی استازی د ګاونډیو هیوادونو او د سیمې د هیوادونو له سفیرانو او استازو سره کتنو ته ادامه وکړه چې په هغو مسالو بحث وکړي چې له افغانستان سره د دوي په دوه اړخیزو اړیکو باندې اغیزه کوي او د دوي په مرستو باندې یې چې د افغانستان د پرمختګ به ډګر کې کولای شي بحث وکړ. ده خپله لومړنی رسمي کتنه له پاکستان، ایران او د روسیې له فدراسیون څخه پیل کړه چې ټول یې له افغانستان سره ګاونډي او نبنتي هیوادونه او مهم سیمه ییز هیوادونه دي او له افغانستان سره پخواني او قوي اړیکې لري او د افغانستان له ثبات سره هم لیوالتیا لري. په دریو مرکزونو کې مباحثې د ملګرو ملتونو په فعالیتونو او نقش، د سیمه ییزې همکارۍ په اهمیت، او په دې ضرورت باندې راټولې وې چې افغانستان په خپلو ترانزیټي لارو باندې خپلواکې او مشرۍ ته اړتیا لري. دغو لیدنو کتنو د مشترکو ګډو نورې ساحې پیدا کړې چې د ګډو او مشخصو نوښتونو امکانات لري او د نشه یي توکو په ګډون په نورو برخو کې همکاري زیاتوي.

۳۸. زما ځانګړی استازی د نشه یي توکو د قاچاق په مخنیوي کې د ایران له خوا نیول شوي اقدامات وستایل. دغه اقدامات د ایران د حکومت له هغې غوښتنې سره برابر و چې مثلث شکله ابتکار بیا راژوندی کوي او د نوې همکارۍ امکانات زیاتوي. دغه راز ده د پاکستان د حکومت فعاله همکاري وستایله چې د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو د کنټرول د ستراتیژۍ له دفتر سره یې لري او د ۱۵۸۰۰ کیلو ګرام استیک اندهایدرید د نیولو یادونه یې وکړه چې د مارچ په ۲۱ په کراچۍ کې د نشه یي توکو پر ضد د ځواکونو له خوا ترسره شوه. زما ځانګړی استازی دغه راز د روسیې د فدراسیون له هغه مثبت دریځ څخه مننه وکړه چې په سیمه کې یې د دې مسالې په اړه نیولی دی.

**د مرستو یو ځای کول**

۳۹. د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ د مشرتابه د برخه وال په حیث، زما له ځانګړی استازی څخه غوښتنه شوې ده، چې د افغان حکومت د لومړیتوبونو لپاره د حکومتدارۍ او پرمختګ په برخه کې نړیوالې مرستې سره همغږې او متحدې کړي او په عین وخت کې هڅې تقویه کړي چې د حکومت له خوا د پرمختګ په مرستو کې زیاتوالی راولي او دغه راز هڅې تقویه کړي چې د حکومت له خوا د دغو سرچینو په کارولو سره د هغه د اغیزمنتوب او شفافیت درجه هم ورسره لوړه شي، د مرستو همغږي کول د افغانستان د حکومت مسوولیت او دنده ده او د یوناما نقش دا دی چې له حکومت سره د دغې درندې وظیفې په اجرا کولو کې مرسته وکړي، او خاصتا د لومړیتوبونو په تشخیص کولو کې او د همغږي کولو په داسې یو چوکاټ کې د هغو ځای پر ځای کول، چې د افغانانو له خوا یې مشرتابه وشي. د یوناما هدف دا دی، چې د دونرانو فعالیتونه د افغانستان له لومړیتوبونو سره غاړه غږۍ کړي او چیرې چې ضروري وي تکراري کارونه او نیمګړتیاوې په ګوته کړي. د ملګرو ملتونو له ادارو، پانګې او پروګرامونو سره یو ځای یوناما د مرستو د رسولو پروسه تقویه کوي او په خاص ډول د افغاني موسساتو ظرفیت لوړوي چې په ملي او محلي کچه مرستې ورسوي.

۴۰. د راپور په موده کې د افغانستان حکومت د افغانستان د ملي پرمختیایی ستراتیژي په لومړیتوبونو کې څرګند پرمختګ کړی دی او د کابل د کنفرانس څخه د مخه یې د دغې ستراتیژۍ د تطبیق لپاره عامه مالي مدیریت او اداري ظرفیت ښه کړی دی. د پرمختګ د دریو ګروپونو په ټاکلو سره د حکومت هڅې د پرمختتګ او بیا رغونې په ځانګړو لومړیتوبونو راټولیږي، چې موخه یې اقتصادي پرمختګ او د کارونو پیدا کول دي، خاصتا د هغو خلکو لپاره، چې له ښاري مرکزونو څخه لیرې اوسي. د لندن د کنفرانس له توقع څخه زیات ۱۸ وزارتونه اوس د کرنې د پرمختګ او د کلیوالي سیمو د پرمختګ په ګروپونو کې بوخت دي (د کرنې د وزیر په مشرتابه)، د بشري منابعو د پرمختګ ګروپ، (د ښوونې او روزنې د وزیر په مشرتابه)، او د اقتصادي او بنیادي ساختارونو د پرمختګ ګروپ ( د کانو د وزیر په مشرتابه). یو څلورم ګروپ، د حکومتدارۍ لپاره تعیین شوی خو باید ددې سکټور د لومړیتوبونو ستراتیژي طرح کړي او د جوړ تر لومړۍ نیټې پورې د دې ګروپ مشري نه وه مشخصه شوې. د ګروپونو تګلار د افغانستان د پرمختیایي اړتیاوو په وړاندې د یوه اړوند غبرګون په طرح کې د افغانستان د ملي مشرتابه او رهبري نقش څرګندوي. دغه تګلار

وزارتونه ګډو هڅو ته رابولي چې ګډې موخې يې د فعاليتونو لپاره لومړيتوبونه او پروګرامونه تعيين کړي. يوناما د ګروپونو په پرمختګ او لومړيتوبونو په تعيين کې مهم رول درلود.

۴۱. د لندن د کنفرانس ژمنې چې د افغانستان د مرکزي بودجې له خوا د پرمختيايي پروګرامونو لپاره مالي مرستې په تدريجي ډول جاري وساتي، د داسې يوه هيواد لپاره حياتي اهميت لري چې نږدې ۸۰ په سلو کې د پرمختيايي مرستو بودجه د مرکزي بودجې له خوا نه تنظيميږي. د ماليې وزارت يو لړ ډير ښه ريفورمونه وړاندې کړي دي، لکه د پروګرام طرح او د څرګندو پايلو په نظر کې نيولو سره د بودجې د اجراو بشپړولو په برخه کې معيارونه ترڅو د بودجې مرستې په ښه ډول ترتيب کړي. له دې اقداماتو سره وزارت له دونرانو څخه غواړي چې له مرکزي بودجې څخه بهر د پرمختيايي فعاليتونو په باب تفصيلي معلومات ورکړي، ځکه بې له دې نه شي کولای چې د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ لپاره يو اغيزناک او داسې پلان جوړ کړي چې وړاندوينه يې وشي.

۴۲. د معلوماتو په شريک کولو کې پرمختګ لومړنی ګام دی په دې لورې چې د پرمختګ لپاره په دواړو خواوو کې د اعتماد فضا ايجادوي. له دې سره بايد د دنرانو فعاليتونه د حکومت له لومړيتوبونو سره عيار شي، او له لنډ مهاله پروژو څخه منځ مهاله هغو پروژو ته مراجعه وشي چې ثبات راولي. اوس د دې وخت دی چې موږ بايد خپله پاملرنه دې ته واړوو چې زموږ ګډ فعاليتونه د عادي افغانانو په ژوند باندې څه اغيزه درلودلای شي. د کابل په کنفرانس کې به حکومت يو لړ اصول وړاندې کړي چې له مخې يې مرستې اغيزمنتوب پيدا کوي او د داسې اقداماتو وړانديزونه وړکړي چې د دونرانو د فعاليتونو په پلانولو، تطبيق کولو او څارنه کې مرسته کولای شي. يوناما به د دې هڅو په تقويه کولو کې په ملي او ولايتي کچه مرسته وکړي، د دې په ګډون چې امنيتي مسووليت له نړيوالو امنيتي ځواکونو څخه ملي هغو ته په تدريجي ډول وليږدل شي.

**ب: حکومتداري او عدالت**

۴۳. د محلي ادارې د پاليسی مسوده د افغانستان د حکومت د کابينې له خوا د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۲۲ نېټه تصويب شوه. دا د حکومت د پروګرامي فعاليتونو لپاره د ولايت او ولسوالۍ په کچو عمومي چوکاټ برابروي او دا د محلي ادارو لپاره اساسي محرکه ده چې د احتساب سره سمه د ملي لومړيتبونو له مخې هغه پلان، طرح او عملي کړي. يوناما د محلي ادارې د خپلواک رياست سره کار کوي څو چې د تطبيق لپاره د چوکاټ جوړونې چارې پای ته ورسوي او د مرسته کوونکو د شموليت او فعاليت لپاره زمينه برابره کړي. يوناما او د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام به د ټولو واليانو او شوراګانو او همدارنګه د سکتوري وزارتونو لپاره د دغه پروګرام د پلي کولو لپاره ملاتړ برابر کړي.

۴۴. د حکومت دا ځواکمنتيا چې په کره ډول د ولايتونو په کچه پرمختيايي پلان طرح، نظارت او وارزوي د ظرفيت او زيرمو د شتون د محدوديت سره مخ ده. يوناما د ملګرو ملتونو د نورو موسسو سره يو ځای په سيمه کې د ولايتي سکتور د کاري ډلو د خدماتو د رسولو او پرمختيايي فعاليتونو د همغږي کولو د ظرفيت د څرګندولو په موخه يوه لنډه سروې ترسره کړه. د يوناما د سروې له مخې د ولايتونو په کچه د پرمختيا لپاره څلور تګلارې او بهيرونه مشخص شول. لومړی دا چې د ولايتي ادارې ظرفيت د سکتوري کاري ډلو د لارې د همغږۍ لپاره په ډيرو محلاتو کې چيرته چې ميکانيزمونه فعال دي او د توقعاتو څخه ټيټ دي، محدود دي. دوهم دا چې د روغتيا او د پوهنې په ډګرونو کې د سکتور د ستراتيژيو همغږي او تطبيق ځواکمن دی او د خصوصي سکتور د پراختيا لپاره په نسبي ډول کمزوری دی. دريم دا چې په ګڼ شمير ولايتونو کې چې ورته د پام وړ امنيتي ننګونې شته هلته سکتور ي کاري ډلې او يا ورته د همغږۍ جوړښتونه نشته. او په پای کې چيرته چې د ظرفيت جوړولو پروګرامونه پرمخ وړل شوي دي، که څه دا د ملګرو ملتونو د موسسو او يا نورو همکارانو له خوا دي، هلته د سکتور ي کاري ډلو د دې ښه ځواکمنتيا او وړتيا ښوولې ده چې سکتوري فعالتيونه پلان، همغږي کړي او هغه تر څارنې لاندې ونيسي.

۴۵. يوناما د عدلي سکتور په برخه کې د مرستندويانو د ملاتړ د همغږۍ په لار کې خپلو هڅو ته ادامه ورکوي. د کابل د کنفرانس لپاره دتياريو په چارو تمرکز د دې اساسي برخه ده. د قانون حاکميت د حکومت د څارنې لاندې د څلورو فرعي ګروپونو څخه يو دی او د عدلي برخې نورې درې موسسې د دې لپاره هڅول شوې وې چې د دغې څانګې د تياريو په موخه يوه ګډه طرحه چمتو کړي. په داسې حال کې چې د دې

وړاندوينه نه ده شوې چې د عدلي سکټور لپاره پروژې به د کنفرانس تر مخه په بشپړه توګه چمتو شي، يوناما به خپل کار ته د عدلي موسسو او مرستندويه موسسو د واړو سره يو ځای دوام ورکړی چې د عدلي اصلاحاتو لپاره د ملي عدلي سکټور د ستراتيژۍ په چوکاټ کې ګډ لومړيتبونه تشخيص کړي.

**ج. بشر دوستانه مرستې، بيارغونه او پرمختيا**

۴۶. د ۲۰۱۰ کال د افغانستان لپاره د بشري مرستو پلان چې د فبرورۍ په مياشت کې پيل شو د ۸۵۰ ميليونو ډالرو غوښتنه کوی چې د هغو ۷ ميليونو وګړو ملاتړ وشي چې د طبيعی پيښو او جګړې له امله زيانمن شوي دي. د جون تر نيمايي پورې د بشردوستانه مرستود عمل پلان ۴۵,۱ سلنه تمويل شوی وه. د اضطراري غبرګون صندوق، چې د دې لپاره جوړ شوي دی څو د محلي اضطراري پيښو په وړاندې چټک ځواب ووايي او څو چې د ملي او محلي غير دولتی موسسو د غبرګون ظرفيت تقويه کړي، همدا مهال ۳,۵ ميليونه ډالر په واک کې لري او د بشري مرستو د چارو د همغږۍ د دفتر (اوچا) له خوا اداره کيږي. د دغه صندوق له خوا چمتو شوی تمويل چې د درې پروژو لپاره دی ۴۸۹۰۰۰ ډالرو ته رسيږي او موخه يې دا ده چې د سيلاب ځپلو وګړو سره مرسته ترسره شي.

۴۷. د فبرورۍ د مياشتې په جريان کې ۲۷۷۰۰ وګړي د جګړې د عملياتو له امله د هلمند په ولايت کې بېځايه شول. سکتوري وزارتونو او د ملګرو ملتونو پلي کوونکو همکارانو دغه بېځايه شوی وګړي ثبت کړي او د بېځايه شوو وګړو ۸۸ سلنې ته يې د خوراکي او غير خوراکي توکو مرستې ورسولې. د خواړو نړيوال پروګرام ۴۹۴۹۱۲ ميټريک ټنه خواړه د کورنيو د راشن په ډول بېځايه شوو کورنيو ته ورسول. د اپريل په مياشت کې د بېځايه شوو وګړو د راستنيدنې چټکتيا ګړندۍ نه وه او د دې لامل هم هغه روان عمليات و چې په دغه سيمه کې ترسره کيدل او دا چې هلته په ګڼه شميره کې د ځای پر ځای شوو چاوديدونکو توکو شتون او د ځواکمنۍ د نوو جوړښتونو په اړه د خلکو انديښنې وې. ملګري ملتونه او همکاره غير دولتي موسسې د حالاتو څارنه ترسره کوي، د بيړنی مرستې پلانونه نوې کوي او د وړاندې څخه ځای پر ځای شوې زيرمې تازه کوي. د هلمند د ولايت د عملياتو په وړاندې د بشري مرستو د غبرګون ارزونې د دې اصولي ځواکمنتياوې راڅرګندې کړې: د موسسو ترمنځ د همغږۍ او معلوماتو د تبادلې ښه والی، د تدارکاتو او موادو په کافي اندازه د وړاندې څخه ځای پر ځای کول او په بريالی ډول د ثبت او ارزونې د کړه کولو د ګډ سيستم پلي کول، دې کار د مرستو د زياتې چټکۍ او اغيزمنې ويشنې سره مرسته کړې ده.

۴۸. په کندهار کې د نظامي عملياتو د ځنډتيا سره، د بيړنيو مرستو کميټې چې په کې د حکومت له لورې سکتوري وزارتونه او د بشري مرستو ټولنه شامل دي، جوړې شوې، څو د وګړو بېځايه کيدنو او د هغوی بشري اړتياوو ته ځواب ووايي. په تياريو کې د زيرمو د وړاندې څخه ځای پر ځای کول، د بيړنيو مرستو د پلانونو نوی کول اود ټولنې د مشرانو سره د تماسونو او د اړيکو پراختيا شامل دي.

۴۹. د راپورونو ورکولو په موده کې ۴۸۰۰۰ افغان کډوال له پاکستان څخه د خپلې خوښې د راستنيدنې د پروګرام لاندې چې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کميشنرۍ له خوا رهبري کيږی هيواد ته راستانه شوي دي او همدارنګه ۲۰۰۰ کسان د ايران د اسلامي جمهوريت څخه راستانه شوي دي. هر هغه وګړی چې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کميشنرۍ په ملاتړ راستنيږي په نقدي ډول ۱۰۰ ډالره اصلي ځای ته د واتن په پام کې نيولو سره تر لاسه کوي. هلته لا تر اوسه هم ۲,۷ ميليونه ثبت شوي افغانان په پاکستان او ايران کې دي چې له هغو څخه زياتره يې د دوو لسيزو راهيسې ژوند کوي. د مۍ په مياشت کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنرۍ او د افغانستان، پاکستان دولتونه دې موافقې ته سره ورسيدل چې درې اړخيز تړون وغځوي د کوم له مخې چې ثبت کړای شوي افغانان له پاکستان څخه د ۲۰۱۲ د ډسمبر د ۳۱ نېټې پورې راستنيږي. د دغه تړون سره سم دغه درې اړخونو يو ځل بيا دا تاييد کړه چې هغوی دافغان کډوالو د خپلې خوښې، تدريجي او با وقاره راستنيدنې اصل ته ژمن دي.

۵۰. د روان کال د مۍ له ۷ څخه تر ۹ نېټې پورې د وردګو په ولايت کې د کوچيانو او هزاره ګانو ترمنځ د تاوتريخوالی له امله څلور تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ، کورونه وسوځول شول او د کورونو څخه خلک بېځايه شول. د مۍ په ۱۸ نېټه يوه پلاوي د دغې سيمې څخه ليدنه وکړه. د دواړو اړخونو ترمنځ د يو تړون په رامنځته کيدو سره چې د ولسمشر د مۍ د ۱۹ د فرمان له مخې د اوربند غوښتنه وشوه، کوچيانو ته حکم وشو چې د متنازعه سيمې څخه ووځي او د کليوالو او هغو کوچيانو چې زيانمن و د زيانونو د تلافي کولو اقدامات ترسره شول. په دې توګه د مۍ په ۲۲ نېټه د افغانستان د بيړنيو مرستو د ملي ادارې ۱,۲۰۰ کورنيو ته

خوراکي توکي ورسول. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنرۍ ۲۵۰ نورو کورنيو ته د شخړې د پيل څخه غير خوراکي توکي ورسول. يوناما د ټولو اړوندو ښکيلو اړخونو سره په ولايتي او د ولسوالۍ په کچو د فرمان د تطبيق لپاره کار کوي.

۵۱. د روان کال د اپريل په ۲۰ نېټه د سمنګان په ولايت کې ۵٫۳ درجې زلزله وشوه چې ۳۰۰۰ کورونه يې زيان او تاواني کړل. د محلي چارواکو سره په همکارۍ کې د بشري مرستو ټولنې په بيړه سره د خوراکي توکو، سرپناه او غير خوراکي توکو او طبي مرستو انسجام کار ترسره کړ. د خوراک نړيوال پروګرام ۱۷۰۰ کورنيو ته د بشري مرستو په لړ کې خوراکي توکي ورسول چې د چا کورونه ويجاړ شوي و. تيزو بارانونو او سيلابونو د بشري مرستو لپاره هغه اړتياوې لا هم زياتې کړې چې د زلزلې له امله رامنځ ته شوې وې. د خواړو نړيوال پروګرام په دې پيل وکړ چې نږدې ۱۲۰۰۰سيلاب ځپلو کورنيو ته (۷۰۰۰۰ ټنه) په ۱۱ سيلاب ځپلو ولايتونو کې بيړنيو بشري مرستو د برابرولو کار پر مخ بوځي.

۵۲. د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ څخه د خواړو نړيوال پروګرام د زياتې انرژۍ درلودونکې بيسکټ او د ښوونځي خواړه ۵۷۶۰۰۰ ماشومانو ته چمتو کړل چې شموليت زيات کړي او په حاضرۍ کې ټيکاو راولي. د کار په بدل کې د خوارړود فعاليتونو د لارې نږدې ۵۶۵۸۰ ګډون والو ته (۳۳۹۴۷۱ کټه اخيستونکو) د اوبه خور د کانالونو، د اوبو د ويالو او د اکمالاتي لارو او د نيالګيو د کښېنولو په ډګرونو کې د کار زمينه برابره شوه. د دې سربيره ۱۰۰۰۰ کسانو چې اکثريت يې ميرمنې وې د مهارتونو لپاره روزنې کې برخه واخيستله.

۵۳. د ماين په اړه د پوهاوي نړيواله ورځ د اپريل په ۴ نېټه زما د استازي په موجوديت کې ولمانځل شوه. د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ او اپريل د مياشتې ترمنځ د ملګرو ملتونو له خوا د ملاتړ شوي د ماين پاکۍ د همغږۍ مرکز په افغانستان کې او د دې همکارو موسسو ۷۲۷۹ د پرسونل ضد ماينونه، ۲۹۲ د ټانک ضد ماينونه او ۲۷۷۰۸۱ د جګړې څخه پاتې شوي چاوديدونکې مواد تخريب کړي دي، ۳۳ کليوالې سيمې (ټولنې) يې د جنګ څخه د پاتې شوو توکو څخه پاکې کړې دي، ۱۳۵۴۶۲ ښځو او نجونو او ۱۸۰۶۰۴ نارينه وو او هلکانو ته يې په ټول افغانستان کې د ماين د خطرو په اړه زده کړې ورکړې دي. د مۍ په ۳۱ نېټه دغه مرکز او همکارانو يې په افغانستان کې د ۱۱۷۳۶ خطر لرونکو سيمو ۴۳ سلنه پاکه کړې ده.

۵۴. د روغتيا نړيواله ورځ د اپريل په ۷ نېټه ولمانځل شوه، د واکسينانسيون اونۍ چې د اپريل په ۲۴ نېټه پيل شوه، د ملاريا نړيواله ورځ د اپريل په ۲۵ نېټه ولمانځل شوه، چې په دې کې دا څرګنده شوه چې افغانستان په دې لار کې پرمختګ کړې دی څو دا باوري کړي چې د هيواد په کچه ماشومان د وژونکو ناروغيو څخه خوندي شوي دي. د ملګرو ملتونو د ماشومانو لپاره وجهي صندوق او د روغتيا نړيوال سازمان د لارې د ۲۷۰۰ څخه زيات واکسيناتوران همدا اوس د معمول سره سم وقايوي خدمات د روغتيايي ځايي مرکزونو څخه، د رسيدنې پروګرامونه او د ټول هيواد په کچه خوځنده او متحرک فعاليتونه سرته رسوي. د پوليو يا ګوزڼ پر ضد واکسين کول د ۲۰۱۰ کال لپاره په فبرورۍ کې د شپږو دورو لپاره پيل شو چې ۷٫۷ ميليونه ماشومانو ته د دې کال د پلان له مخې رسيدنه لري چې د ټولو ماشومانو شميره د ۲۰۰۹ په پرتله ۲۰۰۰۰۰ تنو څخه زياته ده.

۵۵. د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو پر ضد دفتر د هيواد په سويل کې د کوکنارو د حاصل د اغيزمنتيا د ناروغۍ څارنه کوي، لومړنی پايلې دا څرګندوي چې دغه ناروغي نور (قانوني) محصولات نه اغيزمنوي. د نشه يي توکو سره د مبارزې وزير، د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو پر ضد د مبارزې دفتر او همکاران يوه سروې پرمخ بيايي چې د کوکنارو د بوټي د مړاويتوب د ناروغۍ پراختيا او د کوکنارو پر حاصل او بيه باندې د دې اغيزه وارزوي. يوه د انديښنې وړ واقعيت چې کيدای شي د ۲۰۱۱ کال په حاصلاتو اغيزه ولري هغه احتکاري بيې دي چې د نا امنۍ او د کوکنارو د بوټي د مړاويتوب د ناروغۍ سره يو ځای دی. د چرسو لومړنۍ سروې چې په افغانستان کې وشوه د ۲۰۱۰ د مارچ په ۳۰ نېټه نشر شوه. د بنګو د کښت ساحه په افغانستان کې د ۱۰۰۰۰ څخه تر ۲۴۰۰۰ هکتاره پورې اټکل شوې ده چې د دې د محصولاتو ظرفيت هر کال د ۱۵۰۰- ۳۵۰۰ ټنو چرسو ترمنځ دی. دغه پايلې دا څرګندوي چې د افغانستان د ۳۴ ولايتونو څخه په ۱۷ کې يې چرس کرل کيږي. مثبت جريان دا دی چې د نشه يي توکو کمښت دوام لری، چې په زياته شميره کې کسان چې د نشه يي توکو کاروبار کوي او هغه د افغانستان په لويديځو پولو کې نيول کيږي. په عين وخت کې د "افغانستان" پروسه په دې لړ کې وړاندې ځي، دا چې د افغانستان د نشه يي توکو سره د مبارزې پوليس د لومړنی ځل لپاره د نړيوال قانون د همغږۍ په غونډه کې د فعال همکار په توګه راڅرګنديږي څو چې دغه مواد کم شي، دا د سيمه ييزې همغږۍ د زياتوالی او د نورو لا زياتو عملياتو د سرته

رسولو لپاره مرسته کوي. د ټرینرانو د روزنې پروګرام د نشه يي توکو سره د مبارزې په اکاډمۍ کې بشپړ شو چې د دې زمينه يې برابره کړه څو افغانستان په دغې اکاډمۍ کې په راتلونکی کې پخپله د روزنې چارې پرمخ بوځي. د نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت د نړيوالې ټولنې ته خپل لومړنی معلومات وړاندې کړل، چې دا يو داسې تمرين دی چې په منظمه توګه به په راتلونکی وخت کې تکرار شي.

### د. بشري حقونه

.۵۶ د يوناما دا دنده او اختيار چې د ملکې وګړو د ساتنې لپاره هلې ځلې سره همغږې کړي او په پراخه پيمانه د بشري حقونو ملاتړ وکړي، په تيره بيا د ښځو حقونه د امنيت د شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) ګڼه پريکړه ليک له مخې او د ماشومانو (د حقونو ساتنه) د دغه پلاوی لپاره لومړيتوب لري. زما ځانګړي استازی د بشري حقونو خپلواک کميسيون، د ښځو شبکې، غير دولتی موسسې، د مدنې ټولنې استازې، د ټولنې او مذهبې مشران دې ته رابللي دي چې دا باوري کړي چې د افغانانو غړونه په افغانو رهبري شوي پروسو کې واوريدل شي. يوناما د مدافعي د نوښتونو ملاتړ کوي څو د پريکړې کولو په چارو کې د ښځو ګډون ته پراختيا ورکړای شي او دا يقيني کړي چې د ښځو د حقونو مسله د لومړيتوب په توګه پاتې کيږي.

.۵۷ يوناما د ۲۰۱۰ کال د اپريل او جون ترمنځ د جګړې له کبله ۳۹۵ ملکی تلفات ثبت کړي دي چې دې کې د همدغې مودې د تلفاتو په پرتله يو سلنه لږوالی شته. دولت ضد عناصرو ملکی تلفاتو لپاره اساسي مسووليت په غاړه لري چې د تير راپور ورکولو د پړاو په پرتله چې ۶۷ سلنه و ۷۰ سلنې ته پورته شوي دي. په زياتو پيښو کې دولت ضد عناصر د ګڼ شمير ملکی کسان د قتل، اختطافونو او اعدامونو مسووليت په غاړه لري. د دولت پلوه ځواکونو له خوا د عملياتو په نتيجه کې هغه ملکی تلفات رامنځته شوي دي چې د "ځواکونو د ميدان د پراختيا" د پيښو سره يو ځای و چې په دغو پيښو کې ملکې وګړي په نظامې لټون ځايونو او يا د نظامې کتارونو په محل کې وژل شوی او يا هم ټپی شوي دي. د دې لپاره تدابير نيول شوي دي څو دغه تلفات راټيټ کړای شي چې دا کار د عوامو لپاره د خبرتيا او معلومات د کمپاين د لارې ترسره شوی دی چې د نظامي کتارونو له خوا د خبرتيا سګنالونه ورکول کيږي چې په کې د غير مهلکو او بې ضرره اضافي خبرتياوو ورکولو ميتودونه شامل دي، او د ۲۰۰۹ کال د جولای د مياشتې په تاکتيکی دايرکتيف باندې تاکيد کول دی چې د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو (ايساف) له خوا صادر شوی دی او د هغه له مخې د قوې په کارولو کې محدوديت راوستل دي.

.۵۸ له نړيوالو سوله ساتو ځواکونو (ايساف) سره ګڼ شمير ونډه اخيستونکو هيوادونو د نړيوال د امنيتې ملاتړ ځواک د ۲۰۰۶ د عملياتو د معيارونو د طرز العمل سره خپل ملي احتياطي تدابير ور پيژندلي دي چې د هغو له مخې د توقيف شوو کسانو لپاره ۹۶ ساعته توقيف د نظامې عملياتو پر مهال په پام کې نيول شوی دی چې د دغه وخت په تيريدو سره ايساف بايد توقيف شوي کسان خوشې کړي او يا يې هم افغان چارواکو ته وسپاري. دا د پام وړ ده چې هر ډول اوږد مهاله توقيف چې د افغان چارواکو له خوا ترسره کيږي بايد د مناسب عدلي/قضايي نظارت او څارنې سره يو ځای وي.

.۵۹ د مۍ په ۹ نېټه د انتقالي عدالت د همغږۍ ډلې د "عدالت لپاره د قربانيانو جرګه" راوبلله، څو په دې توګه د قربانيانو لپاره يوه غونډه وي چې هغوی هلته پردوي د ناوتريخوالی، تيريو او مصيبتونو کيسې وکړي او دا وټاکي چې د بيرحميو او ظلمونو د ميراث په وړاندې د سولې او پخلاينې په پروسه کې کار وشي. په وروستنی هغه بيانيه کې ګډون والو په حکومت غږ وکړ چې د سولې، عدالت او پخلاينې لپاره د عمل پلان پلې کړي، مشخص اقدامات ترسره کړي څو په دې ډول معافيت پای ته ورسيږي او د عامې بخښنې قانون لغوه کړي او د قربانيانو غړونه د سولې او د پخلاينې په بهير کې شامل کړي.

### هـ د ماشومانو ساتنه

.۶۰ د هيواد د کارې ځواک له خوا په هيواد کې د ماشومانو د حقونو څخه د ډير سخت تخلف ۴۲۰ پيښې ثبت شوي دي. ۳۳۲ ماشومان د جګړې اړوند ناوتريخوالی په نتيجه کې وژل شوي او يا معيوب کړای شوی دی چې دا د تير راپور د مودې په پرتله زياتوالی په ډاګه کوي، چې په عمده ډول دا په هلمند او ختيځو او شمال ختيځو ولايتونو کې د نظامي فعاليت د زياتوالی له کبله دي. په زياته پيمانه د تعبيه شوو چاوديدونکو توکو او ځانمرګو بريدونو له کبله چې د دولت ضد عناصرو له خوا سرته رسيږی نږدې ۶۰ سلنه د ماشومانو

تلفات جوړوي. څلرويشت ماشومان د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو د ډزو د تبادلي پرمهال وژل شوي دي.

۶۱. په ښوونځيو باندې پرليسي بريدونه په ټول هيواد کي په صعودي ډول زيات شول، چي زياتره يې په شمال، شمال ختيځ، جنوب او مرکزي سيمو کي ترسره شوي دي. ۷۲ سلنه پيښي د دولت ضد عناصرو له خوا شوي دي چي په کي د زده کوونکو او ښوونکو ډارول، په ښوونځيو کي د تعبيه شوو چاوديدونکو موادو څخه کار اخيستل، يرغمل نيول، د ښوونځيو د کارکوونکو وهل ټکول او وژل په دغو پيښو کي شامل دي، همدارنګه د ښوونځيو سوځول او پرښوونځيو باندې نور د تاوتريخوالی د بريدونو سرته رسول شامل دي.

۶۲. د افغانستان په امنيتي ځواکونو او د محلي دفاع په فعاليتونو کي د ماشومانو استخدام د اندېښنې وړ دی. هغه څه چي مثبت دي هغه دا دي چي د کورنيو چارو وزارت يو اجراييوي حکمنامه د اپريل په ۲۵ نېټه صارده کړي ده چي په ملي پوليسو کي د ماشومانوداستخدام مخنيوي کوي او د هغو قوماندانانو پر خلاف چي ماشومان استخداموي مجازاتي اجرااات کيږي.

## II. د پلاوي عمليات، ملاتړ او امنيتي مسألې

۶۳. يوناما پر خپل جوړښت کتنه پيل کړې ده، د هغه کتاربندي په دې ډول کوي چي په اغيزمنه توګه خدمتونه ورسوي، لومړيتوبونه تشخيص کړي او د مهمو پروګرامونو لپاره ظرفيت باوري کړی او د دې لپاره ټول تدابير په پام کي نيسي څو چي کارمندان د زياتو امنيتی خطرونو څخه د مخامخ کيدو وژغوري او دغه ډول مخ کيدنه د لږ تر لږه حده راټيټه کړي. په باکفايته او اغيزمنه توګه د پلاوی د ملاتړ خدمات د داسي اضطراري پيښو سره د مقابلې له لارې ادامه لري چي د ۲۰۰۹ د اکتوبر د ۲۸ نيټي د هغه بريد په تعقيب ترسره کيږی چي په کابل کي د باختر د ميلمستون پر ضد ترسره شو چي دا د خوځښتونو د محدوديت او کارمندانو د شمير د کمښت په صورت کي د خطر کچه راټيټوي.

۶۴. د باوري راپورونو له مخي د دولت ضد عناصرو له خوا ګواښونه ادامه لري او دا په ډاګه کوي چي د هيواد په کچه د ملګرو ملتونو پر خلاف نور ممکنه بريدونه کيدلای شي. نيغ په نيغه روانه ډارونه او د داخلي کارمندانو چي د مرستندويه ټولنې سره کار کوي د دې لامل ګرځي چي د پروګرامونو عملي کول د خنډونو سره مخ کړي. د کورنيو چارو د وزارت او د کليو (ټولنې) د مشرانو سره د نږدې همکارۍ د لارې پنځه تنه د ملګرو ملتونو کارمندان چي د اپريل د مياشتي په ۱۵ نېټه د بغلان په ولايت کي اختطاف شوي و وژغورل شول او په خوندي توګه د مې د مياشتي په ۱۸ نېټه خپلو کورونو ته راستانه شول.

۶۵. بې ټيکاوه امنيتي چاپيريال د ملګرو ملتونو پرسونل، ملکيتونو او عملياتو ته زياته خطره او ګواښ متوجه کوي. د ملګرو ملتونو د مرکزي دفترونو په غوښتنه، يوناما او د ملګرو ملتونو هيوادنې ټيم يوه کتنه ترسره کړه څو دا څرګنده کړي چي کوم ډول فعاليتونه تر زياته بريده پوری ضروري دي چي د نړيوالو کارمندانو حضور تضمين کړي کله چي دې مسالې ته د موجودو امنيتي ګواښونو په رڼا کي وکتل شي. په داسي حال کي چي ډيری هغه کارمندان چي د باختر په ميلمستون د بريد وروسته ايستل شوي و بيرته دغه هيواد ته راستانه شوي دي، يوناما د کارمندانو کچه تر بيا کتني لاندې نيولې ده څو دا باوري کړي چي هغه کسان چي په هيواد کي حضور لری ورته خوندی د اوسيدنې ځای برابر شي. دغه بيا کتني وښودله چي د اصلي کارمندانو په واقعي شميره کي په افغانستان کي دا مهال زيات کمښت نه راځي.

۶۶. يوناما د سيمی د دفترونو د استقامت د ټاکنې لپاره کار کوي چي د "درې جمع يو لومړيتوبونو" د لارې، او په تيره بيا دا چي د ولايت په کچه مرستي سره د محلي چارواکو په ملاتړ سره د حکومتدارۍ او پرمختيا د فعاليتونو لپاره منسجمي کړي او د هغو ارتباط ته لار هواره کړي؛ چي په دې کي د ظرفيت جوړول، د خدمتونو د رسولو تقويه او چيرته چي شرايط د دې ايجاب کوي د "واحد ملګرو ملتونو" د روش لارې کار وشي او په ساحه کي د دولت د لومړيتوبونو په پام کي نيولو سره د مرسته کوونکو د ارتباط لپاره همکاري ترسره شي.

۶۷. هغه يوازينی د پلاوي د ملاتړ ننګونه چي د اختيارنامي او دندې د عملي کولو په لار کي ده په تيره په ساحوي دفترونو کي هغه د دې غوښتنه ده چي د اقامات او سکونت نويو لږ تر لږه عملي معيارونو ته

ځواب وواىي. ډېر محلات او ځايونه د دغو معيارونو سره سم نه دي او له همدې کبله يوناما يو نوى پراخه پروګرام په پام کې نيولى دى. په داسې حال کې چې دغه کار روان دى، د خالي پوستونو ډکول په تيره بيا نړيوال پوستونه بايد په احتياط سره د مصونو دفترونو او سکونت د ځايونو په پام کې نيولو سره د وخت له نظره ترسره شي او د هر پروګرام د اهميت د ارزوني د پايلو سره په مطابقت کې راشي. د دفتر او اوسيدني د ځاى مصونيت زياتوالى د دې لپاره اړين دى چې په اغيزمنه توګه امنيتي خطرونه نه يوازې د ټې ډوله ديوالونو د زياتولو سره راکم کړاى شي بلکه نور ملحوظات او انديښني هم په پام کې وي لکه د مخابراتو، مفاهمې، او معلوماتي تکنالوژۍ، هدفمندو هوايي خدمتونو رسولو او د وسله والو محافظانو د برابرولو د لارې چې د اوسيدني په محوطو کې توظيف وي.

۶۸. غړي دولتونه کولاى شي دا ور په ياد ه کړي چې د ۲۰۱۰ لپاره د يوناما بودجه د ۲۰۰۹ د اکتوبر په ۲۸ سملاسي وروسته له هغه وخت څخه چې په کابل کې د باختر په ميلمستون بريد ترسره شو وړاندې شوې وه او په دې کې د امنيتي خطر ارزونه د بريد څخه د وړاندې وضعې پر بنسټ وه. هغه تمويل چې وړانديز يې شوى وو د دې لپاره کافى وو چې د دغه وخت څخه را وروسته د ځو مياشتو احتمالاتو لپاره وکارول شي، په داسې حال کې چې بيا غور او کتنې سره دا وټاکل شوه چې څه ډول اضافي امنيتي اقدامات په کار دي. د غړو دولتونو له خوا په مثبت ډول د اضافي زيرمو په پام کې نيول چې وکړاى شي د امنيتي وسايلو، موادو، تجهيزاتو او خدماتو لپاره وکارول شي د دار الانشاء له خوا د دغې توجه ستاينه کيږي.

۶۹. د استخدام فعاليت ښه شوى دى، ځکه چې يوناما ته دا صلاحيت ليږدول شوى دى چې په يوناما کې د خدمت لپاره د کار کولو لپاره وړانديزونه لاسليک کړي او هغه ورکړي، په داسې حال کې چې د سيمې د کتنې د مرکزي بورد بهير بشپړ شي. د مارچ تر ۳۰ نيټې پورې د نړيوالو کارمندانو د خالي ځايونو شميره ۴۲ سلنه او د محلي کارمندانو د خالي ځايونو شميره ۳۸ سلنه وه، چې د مې په ۱۶ نېټه دغه شميرې ۳۹ او ۳۰ سلنې ته د هرې برخې لپاره په ترتيب سره راټيټې شوې. که څه هم د استخدام مسله لا هم د انديښنې وړ ده، يو لامل يې دا دى چې نوماندان نه غواړي او دې ته نه ژمن کيږي چې په داسې ساحه کې کار وکړي چې په کې امنيتي خطر لوړ وي. او په کې د خدمت د ترسره کولو لپاره مساعد او برابر شرايط نشته، او بل لامل يې دا دى چې کارمند ته د وروستنې وړانديز ترمخه د اقامت د مصوون ځاى شرط پوره او هغه سفر ته چمتو شي. د استخدام او د کارمندانو د پوره کچې د ساتنې ننګونه چې هغه وکړاى شي د پلاوى ورسپارل شوې دنده سرته ورسوي د هغو ارقامو له مخې توضيح کيږي چې د ۲۰۱۰ د جنورى او اپريل د مياشتو په موده کې موجود دي. په دغه موده کې اته ويشت نوى استخدام شوي کسان رارسيدلي دي، که څه هم دغه شميره د ۲۱ تنو د نه منلو د کمښت او ۲۴ تنو د دندې د پريښودلو سره منفي تعادل څرګندوي. لا نورې هلې ځلې په کار دي څو د خدمت شرايط ښه کړاى شي او د استخدام پروسه چټکه شي. په دې برخه کې زه همدارنګه دې ته هيله من يم چې د بشري زيرمو د مديريت په هغه بحث کې چې د عمومي اسامبلې په راتلونکې غونډه کې صورت نيسي مثبتې پايلې تر لاسه شي، او په ځانګړى ډول د خدمت د شرايطو پوښتنې ته ځواب وموندل شي.

۷۰. يو پلان ترتيب شوى دى چې ځينې ځانګړى د ملاتړ عمليات کويت ته وليږدول شي چې هلته د عراق لپاره د ملګرو ملتونو د پلاوې سره يو ځاى وي، امکان لري چې په راتلونکې ربع کې دا کار ترسره شي. د دې کار موخه دا ده چې د يوناما د کارکوونکو عمومي شميره په افغانستان کې پرته له دې چې د دندود سرته رسولوملاتړ تر پوښتنې لاندې راشي راټيټه کړاى شي. د دغه پلان له مخې د مفاهمې او مخابراتو پرمختللى او پراخه ظرفيت په پام کې نيسي او همدارنګه د ناوړه پيښو څخه راوتل او د کار د تداوم لپاره د پلاوى د ساحې څخه د باندې امکانات برابرول دي. تر ټولو زياته مهمه دا ده چې دغه ملاتړ کوونکې دفتر چې ورسره په افغانستان کې با ارزښته د اوسيدنې ځاى خالي کيږي، دا به چمتو کړاى شوې عملياتي قرارګاه هم شي چې د اړتيا په صورت کې له افغانستان څخه د امنيتي لاملونو له کبله په موقت ډول د کارکوونکو د ايستلو او هلته د ځاى پر ځاى کولو لپاره زمينه برابره کړي.

## IV. مشاهدات او کتنې

۷۱. زما د دې ترمخه راپور (A/64/705/-S/2010/127) راهيسې عمومي امنيتي وضع نه ده ښه شوې. د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي هدفونو، دولتي چارواکو او نړيوالو امنيتي ځواکونو پر خلاف بې توپيره بريدونه دوام لري. د تعبيه شوو چاوديدونکو وسيلو په زياته اندازه د ځاى پر ځاى کولو او د پيچلو ځانمرګو بريدونو پيښيدل دوام لري. نظامي عملياتو هم شدت موندلى دى.

۷۲. د بې ټیکاوه او بې ثباته امنیتي حالت سره سره د راپور ورکولو په موده کې په ملکی سکټورونو کې زیاتې مثبتې پرمختیاوې راغلې دي او دا له هغه وخت څخه چې د افغانستان حکومت د سیاسي بهیر مشرتوب په غاړه اخیستي دی او یو مترقي روش یې "د افغانی کیدو" د اجنداء د پلي کولو لپاره د امنیت، حکومتداری او پرمختیا په چارو کې چې د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژی درې ستنې دي او لکه چې د لندن په کنفرانس کې تاکل شوې ده پر غاړه اخیستي دي.

۷۳. زه د افغانستان د ملي شورا د ټاکنو لپاره چې لا هم د پروګرام سره سمې باید د سپتمبر په ۱۸ نېټه به جوړې شي د افغاني د ټاکنو د موسسو د تیاریو له امله هڅول شوی یم. د ټاکنو خپلواک کمیسیون په نوی تحرک، خوځښت او خپلواکی سره د خپل نوی مشرتابه لاندې نوي فعالیتونه پیل کړې دي. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د افغانو او نړیوالو کمیشنرانو ترمنځ د کار مثبت ډینامک او تحرک رامنځته کړی دی او د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیونونو دواړو سره په ګډه همکاری کې پرته له کومې پیښې د نوماندانو د نوماندۍ دوره سرته ورسوله. ځواکمنې شوې افغاني ټاکنیزې موسسې چې د ټاکنو مشرتوب کوي د ټاکنو په بهیر کې په لا زیاته اندازه د باوري کولو په لار کې ښه ونډه لري. زه په ځانګړی ډول خوښ یم چې د نوماندانو په لومړني لست کې له ۴۰۰ څخه د زیاتو ښځو نومونه شته. په کافي اندازه باید د دغو ښځو امنیت برابر کړای شي څو دا باوري کړي چې هغوي په برابره توګه د ټاکنو پروسې ته رسیدنه لري. د ټاکنو په مهال امنیت اساسي او مهمه مسله ده او د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید رایې اچوونې د مرکز د امنیت تعادل د دې اړتیا سره وکړي چې د ټولو افغانانو لپاره ټاکنو ته رسیدنه وي. په دې توګه موږ باید دا واقعیت له پامه و نه غورځوو چې د ټاکنو پروسه د ۲۰۱۰ د ټاکنو څخه وړاندې پراختیا مومې. په داسې حال کې چې په تیرو میاشتو کې د ټاکنو په موسسو کې پانګوونه شوې ده، خو دلته د دې اړتیا لیدل کیږي چې په هر اړخیز ډول اوږد مهاله ټاکنیز اصلاحات رامنځته شي. زه هیله کوم چې دا کار به د ولسمشر او د نوي پارلمان په اجنداء کې وي.

۷۴. زه د سولې د مشورتي جرګې د پایلو څخه خوښ یم چې دا ټولو افغانانو ته د شمولیت سره د مذاکرې او ډیالوګ ته د رسیدو په لار کې یو قدم دی چې موخه یې په افغانستان کې د ټیکاو او سولې راوستل دي. ملګري ملتونه په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو لپاره د دغه ډول ملي هلو ځلو ملاتړ کوي او په بشپړه توګه دې ته ژمن دي چې د افغانستان د چاراوکو او خلکو سره چې د سوله ییزې او با شموله ټولنې لپاره هڅې او هاند کوي، کار وکړي. په پراخه توګه د سولې او بیا ادغام پروګرام تصویب او د سولې د شورا جوړول چې وکړای شي د افغانانو خپل منځي ډیالوګ پرمخ بوځي ، لومړنی ښه پرمختګونه دي چې باید د پخلاینې د پروسې لپاره تعقیب شي. زما ځانګړی استازی او یوناما دې ته چمتو دي چې د افغانستان د دولت د غوښتنې سره سم د دغو افغاني مشرتابه د پروسو د پلي کولو لپاره سیاسي ملاتړ او ښه خدمتونه برابر کړي. دلته یو پراخه د نظر اتفاق شته چې د افغانستان جګړه یو سیمه ییز داسې حل ته اړتیا لري چې د ګاونډي هیوادونو له خوا یې ملاتړ وشي. یو با ثباته، سوله ییز او سوکاله افغانستان د ټولو ګاونډیانو او سیمې په ګټه دی. زما ځانګړی استازی او یوناما د ې ته چمتو دي چې د کلیدي سیمه ییزو دخیلو او اړوندو اړخونو سره د ډیالوګ لپاره امکانات برابر کړي او د هغو بحثونو لپاره همکاري ولري چې وکړای شي په افغانستان کې د سولې د بهیر سره مرسته وکړي.

۷۵. افغان حکومت اوس د کابل د کنفرانس لپاره خپل لرلید ترتیب کړی دی چې د ملګرو ملتونو څخه د هغه د ګډ مشرتابه غوښتنه شوې ده. د حکومت سره د مرستې د لارې څو هغه وکولای شي زیاتې مرستې د بودجې په وسیله په کارواچولې شي، او همدارنګه دا چې د بودجې څخه د باندې د مرستو اغیزمنتیا ښه شي او څو چې په بریالی ډول افغانان د امنیت، حکومتدارۍ او د پرمختیا د چارو ستر مشرتوب ولري، یوناما به د حکومت سره د افغانستان د خلکو سره په کابل کې د کیدونکي کنفرانس د راتلونکو ژمنو او تړون په لار کې ملاتړ وکړي.

۷۶. د مرستو تړاو د ډله ییزې اغیزمنتیا لپاره د شمیرنې معیار دی. د حکومت سره د ملاتړ د لارې او د ټولو همکارانو او شریکانو سره د یو ځای کا ر د لارې موږ کولای شو چې په واقعي او حقیقي توګه د منسجمو مرستو هلې ځلې پر مخ بوځو، چې دا په متقابلو مکلفیتونو پورې تړاو لري چې دا کولای شي ټولو افغانانو ته د مرستو رسول اسانه کړي. دا زیاته د اهمیت وړ ده چې نړیواله ټولنه په واضحه توګه خپل اوږد مهاله ژمنه د دونرانو د زیرمو د ردیف بندۍ په لار کې پوره کړي چې په هغو کې د افغانستان د مالکیت پر بنسټ تر لاسه کیدونکي او د اعتبار وړ د ملي لومړیتوب پروګرامونه په پام کې وي.

۷۷. حکومت په پام کې لري چې د ښه دونرشیپ د اصولو د پلی کولو لپاره میکانیزمونه جوړ کړي. د پایښت لرونکي او منسجمې ظرفیت جوړونې د ملاتړ د لارې به په ملي او نړیواله کچه تاکید صورت ونیسي او دا د دې لپاره چې حکومت په دې وتوانیږي چې خپله د لومړیتوب اجنډا پلې کړي. دغه دواړه لومړني شرطونه د دې لپاره اهمیت لري چې متقابل باور تقویه شي چې د افغانستان له خوا د طرح شوی مترقي کړنلارې لپاره د جولای د میاشتې د ۲۰ نېټې د کابل د کنفرانس څخه وروسته د نوې همکارۍ زمینه برابره شي.

۷۸. د افغان ملي امنیتي ځواکونو د اصلاحاتو په ډګر کې د پام وړ پرمختیا سره سره امنیتي چاپیریال بې ثباته دی. د امنیتی سکټور د اصلاحاتو په لار کې د یو هر اړخیز روش څخه باید د اغیزمنې حکومتدارۍ او د سیاسي پروسو په برخه کې د مترقي پرمختګونو د لارې کار واخیستل شي چې د متمرکزو نظامي هلو ځلو په وړاندې متقابل تعادل او موازنه رامنځته شي. یوناما د ټولو اړوندو اړخونو څخه په متداومه توګه غواړي چې د ملکیانو مصوونیت د هر څه ترمخه په پام کې ولري.

۷۹. یوناما د حکومت او د ایساف سره د انتقال په بهیر کې د کار کولو لپاره ژمنه ده چې دا په مرکزونو او د ساحې په کچه څرګنده شوې ده. په دې زمینه کې به یوناما خپل د مدافعې کار ته په هغو برخو کې دوام ورکړي چې د دغو تدابیرو له مخې د محلي اړتیاوو او شرایطو تنوع، د ظرفیت جوړونې اصول چې د افغاني لومړیتوبونو او ملي پروسو سره تړلې دي، په پام کې نیول کیږي، په دې ډول به د یو فعال او کارنده دولت جوړونې لپاره د سمې او برابرې جوړونې د روش څخه کار واخیستل شي. دا د افغانستان لپاره د لیږد په بهیر کې یو ډیر مهم کال دی او دا د یوناما لپاره یوه دنده ده چې خپلې هلې ځلې په یو څو محدودو د لومړیتوب په کارونو متمرکزې کړي، چیرته چې هغه زیات ارزښت رامنځته او په اغیزمنه توګه فعالیت وکړي. ملګري ملتونه په افغانستان کې د اوږد مهاله حضور لپاره خپلې ژمنې ته ادامه ورکوي. د یو اغیزمن حضور لپاره د پام وړ او پایښت لرونکو زیرمو ته اړتیا ده چې هغه باید زما د کارمندانو د امنیت لپاره وقف شي. زه په دې هڅول شوی یم چې د پلاوی د مشرتابه له خوا د امنیتی خطرونو د کمولو په لار کې وقایوي او د وړاندې څخه د مخنیوي روش کارول کیږي.

۸۰. د هغو معیارونو او شاخصونو په وړاندې د پرمختګ د ارزونې لپاره چې وکړای شي د یوناما د دندو د پلې کولو په لار کې د پرمختګ د اندازه کولو او څرګندولو لپاره ده هر کال ترسره کیږي چې دغه ارزونه به د یوناما د فعالیت او د دندی د نوی کیدلو سره چې په مارچ کې ترسره کیږي یوځای وي.

۸۱. زه غواړم د دې فرصت څخه په استفادې سره دغه پلاوی ته زما د ځانګړی استازی ستفان دی میستورا او په سیاسي چارو کې زما مرستیال ځانګړي استازي مارتین کوبلر راتګ ته ښه راغلاست ووایم. زه همدارنګه غواړم چې د خپلې مننې مراتب هغو نارینه وو او ښځو ته چې د یوناما او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې کار کوي د هغوي د فداکارۍ او ژمنې له امله څرګند کړم.